**بسم الله الرحمن الرحيم**

**راځئ په روانه روژه کې د الله سبحانه و تعالی د قانون د تطبیق هڅې وکړو!**




**اې د پاکستان مسلمانانو!**

الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ﴾**

[البقرة: ۱۸۵]

*ژباړه: روژه هغه میاشت ده، چې پکې قرآن رالیږل شوی او د انسانانو لپاره سر تر پایه هدایت دی، داسې څرګندې لارښوونې پکې دي چې سمې لارې ته ښوونکې او د حق او باطل بېلوونکې دي.*

او دغه راز فرمایي:

**﴿إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ﴾**

[ النساء:۱۰۵]

*ژباړه: اې پېغمبره! موږ دا کتاب ستا لوري ته په حقه لیږلی، ترڅو هغه سمه لاره چې الله درښودلې له هغې سره سم د خلکو په منځ کې پرېکړه وکړې.*

هغه مهال چې د الله قانون تطبیقېدو د روژې میاشت د الله سبحانه و تعالی د عبادت لپاره تر ټولو غوره میاشت وه او هغې زمانې نږدې زر کاله ادامه درلوده. هغه وخت مسلمانانو د روژې میاشت یوازې تر روژه نیولو، تراویحو او د روژه ماتې دعوت ته نه وه ځانګړې کړې. هغوی د ژوند په هره برخه کې له اقتصاده بیا تر نظامي او تعلیمي چارو پورې اسلام په بشپړه توګه په پام کې نیوه.
دا هغه زمانه وه، چې حکامو مو د الله سبحانه وتعالی له حکم سره سم حکومت کاوه. زموږ شتمني په دوران کې وه، دا شتمني یوازې تر شتمنو پورې محدوده نه وه، بلکې په هغې سره د بې وزلو لاس نیول کېده. د مظلومانو ژړاګانو ته ځواب ویل کېده، له همدې امله

د دښمن ځواکونه په جهاد کې د خلافت ځواکونو له مخامخ کېدو څخه ډارېدل. په رښتیا سره، دا ټول زموږ د ستر دین د حاکمیت له برکته و، چې روژه د پېړیو لپاره د فتحو او بریالیتوبونو میاشت وه. په دې میاشت کې مسلمانانو ته په بدر کې پر قریشو بری ور په برخه شو، مکه فتحه شوه، فارسیانو په الابویب کې ماته وخوړه، اموریه فتحه شوه او تاتاریان په ورته جالوت کې له ماتې سره مخ شول.

**اې مسلمانانو!** په یوه داسې زمانه کې چې د الله سبحانه و تعالی قانون نه پلی کېږي، روژه به په څه ډول حالت کې موږ ته راشي؟ څرګنده ده، چې روژه به په بدمرغه، درناکه، ناکامه او سپک حالت کې راباندې راځي. سره له دې چې موږ له یو ستر پوځ څخه برخمن یو، خو بیا به هم بریا زموږ د دښمن وي او خپل کفري بیرغونه به زموږ د وژل شوو ماشومانو، مېرمنو او بوډاګانو پر جسدونو رپوي. سره له دې چې موږ مسلمانان پراخې ځمکې او زېرمې لرو، خو بیا هم بې وزلۍ ځپلي یو او سختیو مو ملاوې ماتې کړې دي.
اوس هم د دې پر ځای چې اوسنۍ سیاسي رهبري مو د الله د قانون پلي کولو ته وهڅوي، د ټاکنو له لارې د اوسني نظام عمر اوږدوي او الله سبحانه و تعالی یې په اړه فرمايي:

**﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا﴾**

[طه:۱۲۴]

*ژباړه: او څوک چې زما له ذکر څخه مخ واړوي، د هغه لپاره به په دنیا کې تنګ ژوند وي او د قیامت په ورځ به موږ هغه ړوند راپاڅوو.*

اوسنۍ سیاسي رهبري د دیموکراسۍ پر مټ بدلون غواړي، داسې واکمن نظام چې قوانین د انسانانو د غوښتنو پر بنسټ په پارلمان کې جوړېږي او الله سبحانه و تعالی یې په اړه فرمايي:

**﴿وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ وَٱحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكَ﴾**

[ المايدة:۴۹]

*ژباړه: نو اې محمده! ته د الله سبحانه و تعالی له رالېږلي قانون سره سم د دې خلکو د چارو پرېکړه کوه او د هغوی د غوښتنو پیروي مه کوه. پام کوه چې دا خلک تا په فتنه کې وا نه چوي، یو ذره هم له هغه هدایت څخه وا نه وړي چې الله در ته لېږلی دی.*

اوسنۍ سیاسي رهبري ادعا کوي، چې دوی به د دیموکراسۍ له لارې فساد او ظلم ختم کړي. خو هغه څوک چې د الله سبحانه و تعالی رالېږل شوي حکمونه نه عملي کوي ظالمان دي. سره له دې که دوی زموږ د دنیایي ښېګڼو لپاره کار وکړي، خو بیا به هم د هغه سبحانه و تعالی له قهر څخه خلاصون ونه مومي. په اړه یې الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمْ الظَّالِمُونَ﴾**

[ المايدة:۴۵]

*ژباړه: او کوم خلک چې د الله سبحانه و تعالی له رالېږل شوي قانون سره سمه پرېکړه نه کوي هغوی ظالمان دي.*

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

مشري هغه کس ته ورکول کېږي چې وړتیا یې ولري، نه هغه کس ته چې خپله یې غوښتنه کوي. اوسني سیاسي ګوندونه: که مسلم لیګ نواز دی، که د پاکستان د خلکو ګوند او که تحریک انصاف، دوی به هیڅکله هم زموږ حالت بدل نه کړي. ځکه دوی ټول د یوې سرچینې(مشرۍ) غوښتونکي دي. هر ځل چې ټاکنې رانږدې کېږي دا ګوندونه یو په بل پسې پر ټاکنو او دیموکراسۍ د باور پیدا کولو لپاره موږ ته غولونکې ژمنې راکوي، خو تر ټاکنو وروسته کړې ژمنې یې په سیند لاهو شي او موږ په ژورې ناهیلۍ او ناوړه

حالت کې پرېږدي. د ديموکراسۍ د ردولو مانا دا نه ده چې موږ به هر څه له لاسه ورکوو؛ بلکې له ريښتيني بدلون څخه برخمن کېږو او دا بدلون د الله سبحانه و تعالی د رالېږلي نظام سبب ګرځي. دغه نظام اسلامي دولت او خلافت دی.

دا چې اسلام د يو دولت او اساسي قانون په اړانه کې واکمن شي، نو يوې نوي سياسي رهبرۍ ته اړتيا لرو چې د دې رهبرۍ لپاره بايد کار وکړو، ملاتړ يې وکړو او پخپله يې رامنځته کړو، ځکه دا رهبري له آسمانه نه راکښته کېږي. حزب التحرير ټول اساسي قانون( د خلافت دستور) په ۱۹۱مادو کې د قرآن کريم او سنتو په اړانه جوړ کړی دی. دغه حزب د کتابونو يوه ټولګه چمتو کړې، چې پکې د اسلام سياسي حللارې او د هغې د پلي کېدو تګلارې ښودل شوې دي. دا حزب ګڼ شمېر وړ، له حالاتو خبر، ژمن نارينه او ښځينه غړي لري، چې د اسلام د تطبيق په لار کې د خلافت، حکامو ته د مشورې ورکولو او د هغوی د محاسبه کولو بشپړه وړتيا لري. دا حزب په ټوله اسلامي نړۍ کې فعاليت کوي او د نړۍ تر ټولو ستر ګوند دی چې د مسلمانانو د يووالي لپاره کار کوي، ترڅو د خلافت تر چتر لاندې يې سره يو موټی کړي. له سياسي پلوه د نومړي حزب له نوموتو فقهاوو څخه د دغه حزب مشر، شيخ عطا بن خليل ابو الرشته دی، چې له بشپړې وړتيا، پوهې او تجربې سره زموږ رهبري کولی شي.

روانه روژه موږ د حزب التحرير بشپړ ملاتړ ته هڅوي، ځکه دا حزب د الله سبحانه و تعالی د قانون د پلي کولو په موخه د رسول الله صل الله عليه وسلم پر طريقه د خلافت بيا ځلي راوستلو ته هڅه کوي. راځئ په دې لويه مياشت کې دا موکه له لاسه ورنه کړو. موږ به د خلافت ملاتړ، په حلقو، غونډو او ليکچرونو کې د برخې اخيستنې له لارې کوو. هغوی رسالې وېشي او بيانيې ورکوي، نو راځئ په دغه کار کې ورسره ودرېږو او ملاتړ يې وکړو. راځئ د خلکو پاملرنه د دوی په لور کړو او په ګډه د دغه حزب پيغامونه، رسالې، کتابونونه او ويډيوګانې تر خپله وسه پورې هغو کسانو ته ورسوو، چې موږ يې پېژنو. راځئ د ديموکراسۍ د رد په اړه او د الله سبحانه و تعالی د قانون د پلي کېدو پر فرض والي ورسره وغږېږو. راځئ د ديموکراسۍ له منځه تللو او د خلافت د بيا راتګ لپاره دعا وکړو او له نورو څخه هم همدا وغواړو. راځئ له خپلوانو او دوستانو څخه مو چې په پوځ کې دي، د خلافت د بياځلي راتګ په موخه د حزب التحرير د ملاتړ لپاره نصرت(مادي مرسته) وغواړو.

د روژې مياشت موږ هڅوي چې د خلافت د بيا راتګ په لار کې ځانونه پياوړي کړو. د هغه لپاره شپه او ورځ يوه کړو، نو نږدې ده چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زېرې شاهدان شو. امام احمد روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل:

**«ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ ثُمَّ سَكَتَ»**

بيا به جابر حاکمان راشي، دوی به تر هغې په واک کې وي، چې د الله سبحانه و تعالی خوښه وي. بيا به د الله په خوښه د دوی واکمني پای ته رسېږي. بيا به د نبوت پر طريقه خلافت راشي. بيا چوپه خوله شو.

**حزب التحرير- ولايه پاکستان**

**۱۴۳۹هـق، د شعبان ۲۵ مه**

**۲۰۱۸م، د پروري ۱۱ مه**

**ژباړن: حمزه خالد**